له سلیمان لایق سره د ژمن مرکه

# سلیمان لایق سره د خلق دموکراتیک گوند په اړه مرکه



سلیمان لایق

یادداشت «اصالت»:

با تشکر از سایت انترنیتی ژمن که این مصاحبه را در اختیار ما قرار دادند. سایت «اصالت» ارگان نشراتی ح.د.خ.ا. که حامل اندیشه ها و آرمانها و اهداف مرامی این حزب بوده هرگونه نظرات و موضعگیری های که از لحاظ ایدئولوژیکی سیاسی و سازمانی مطابق با اصول و پرنسیپ های واقعبینانه و اخلاقی مطرح میگردد و به تکامل آرشیف مبارزه تاریخی و کنونی حزب و جنبش یاری میرساند به نشر میسپارد. بررسی ها تحلیل ها و ابراز نظر های علمی متکی بر مدارک اصولی را میپذیرد.

اداره سایت «اصالت»، با توجه به نکات بسیار حساس، باریک و ارزشمند تاریخی که در متن پاسخ های محترم سلیمان لایق در این مصاحبه وجود دارد، تصمیم گرفت تا متن کامل این مصاحبه را برای مخاطبان عزیز «صالت» به نشر سپرده و آنرا به عنوان یک سند تاریخی در آرشیف خود داشته باشد.

=======================

ژمن د تاریخي مرکو لړۍ پیل کړې. د دیموکراسی له لسیزي را په دې خوا، د هر اغېزمن گوند له غړو سره مرکې کوي او نیوکیزې پوښتنې مطرح کوي، څو ناخوابه پوښتنې، د دوی له خپلو خولو ځواب شي.

د دې لړۍ په دې کړی کې مو ښاغلی سلیمان لایق سره مرکه کړې، چې د حزب دیموکراتیک خلق افغانستان یو له بنسټگرو او اغېزمنه څېره و. له ده مو د گوند د څرنگوالي، غلطیو او نورو مهمو موضوعگانو په اړه پوښتنې کړي.

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

**حزب دیموکراتیک خلق افغانستان څنګه رامنځ ته شو؟**

زمونږ د ګوند پیلوونکو ملګرو افغانستان پوره غوښته، دوی ډیورنډ نه مانه. دوی د پاکستان سخت مخالف وو. نو حزب دیموکراتیک خلق افغانستان یې جوړ کړ. په هغه وخت کې نړۍ دوه قطبي وه. یوې خوا ته غربي بلاک و، بلې خوا ته شوروي. هغه روشنفکرانو چې حزب دیموکراتیک خلق افغانستان جوړ کړ، دوی د پاکستان سخت مخالف وو او د ډیورند تحمیلي کرښه یې نه منله. دوی چې کتل، له پاکستان سره غربي بلاک په کلکه ولاړ دی او ملاتړ یې کوي. مونږ هم دغسي یوه بلاک ته اړتیا لرله. شوروي چې ستر سوپر پاور و، زمونږ د داعیې ملاتړ یې وکړ. مونږ له شوروي سره د سیاسي ګټو د توافق پر اساس یو شوي وو او له هغوی مو استفاده کوله.

حزب د هغو روشنفکرانو مجموعه وه چې د پاکستان په مقابل کې یې د افغانستان د حقوقو دفاع کوله. پاکستان د افغانستان په یوه برخه خېټه اچولي وه. حزب دیموکراتیک غوښتل چې دغه پښتانه آزاد کړي او افغانستان پوره کړي. د روس ستر سوپر پاور له مونږ سره مرسته وکړه.

بله دا چې، په هغه وخت کې په نړۍ کې د استعمار په مقابل کې خلک راپورته شول او خپله آزادي یې واخیسته. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته هند له استعمار نه خپله آزادي واخیسته. پاکستان، نیپال، بنګله دېش او نور هېوادونه جوړ شول. په افریقې کې هم ځینې هېوادونه جوړ شول. شورویانو د خلکو دغه آزادي پال خوځښت ملاتړ کاوه او تاییداوه یې. کله چې به هېوادونه آزاد شول، شوروي به ژر سفیر ورواستاوه.

همدغو آزادي پالو نهضتونو په افغانستان کې هم د پښتنو د آزادۍ له پاره له خلکو سره هیلې پیدا کړې. مونږ غوښتل چې د افغانستان سرحد تر اباسینه ورسوو. ویل کېږي، کله چې احمد شاه بابا هند ونیو، بیا یې د پښتنو مشران راټول کړل، او ورته یې وویل چې د افغانستان سرحد تر اباسینه دی، ها خوا هندوستان دی.

په هغه وخت کې د روشنفکرانو نظر دا و، چې مونږ باید تر احمد شاهي سرحداتو ورسېږو. مونږ ویل چې هر چېرته د استعمار کړۍ شلېدلې، نو مونږ څه بلا وهلې یو چې خپله خاوره مو لا هم آزاده کړې نه ده.

د پاکستان له جوړېدو سره چې ځینو توافق وکړ، لامل یې دا و چې پاکستان د اسلام شعار پورته کړ. د همدې له پاره ځینې ورسره شول. پښتانه خو ساده خلک دي، د اسلام په نامه ښه غولېږي. پاچا خان وایي چې مونږ سره هندوانو د پاکستان په جوړېدو کې غلطي وکړه.

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

نو د دغه ګوند د جوړېدو محرک د خاورې آزادول او د استقلال تر لاسه کول وو. بیا چې موږ له شوروي سره شوو، لامل يې دا و چې هغوی له موږ سره زموږ د داعيې په تر لاسه کولو کې مرسته کوله.

**دا سمه او معقوله ده چې باید سړی د یوه ستر سیاسي ځواک لمنه ونیسي او د هغوی په مرسته ځان یو چېرته ورسوي. دا په نړۍ کې ډېره عامه ده. خو اړینه نه ده چې هر هېواد دې د سوپر پاور آیډیالوژي هم ومني. ډېر هېوادونه شته چې په ګټو کې له یوه زبرځواک سره شریک دي او د هغوی خوا یې نیولې، خو د هغوی آیډیالوژي یې نه ده منلې. تاسې د شوروي آیډیالوژي ومنله او کمونېستان شوئ. اوس پوښتنه دا ده، چې تاسې کوم ډول کمونېزم منلی و؟ دا مارکسېزم و، که مارکسېزم لېنېنېزم او که کوم بل ډول کمونېزم؟**

زه تا باید پوه کړم، چې هغه ایډیالوژي، چې مارکس کار پرې کړی او د کمونېزم په نامه یې وړاندې کړې، شک نه شته چې د هغې اقتصادي برخې، سیاسي برخې، ځینې تحلیلونه، د استدلال طرز زموږ په پارټۍ کې اخیستل شوي وو، لیکن زموږ پارټۍ په ژوند کې نه دي ویلي چې موږ کمونېزم منو. تاسې یو سند نه شئ وړاندې کولای چې د دوی کمونېزم ثابت کړي. کمونېزم په موږ پورې یو تپل شوی نوم دی.



لایق وایي نه پرون کمونېست و نه نن، بلکې د کمونېزم ځینې خبرې يې منلې وې.

**ستاسې غړو ښکاره ویل چې موږ خدای نه منو، کمونېزم مو خپل دین باله، پر لېنن درود ستاسې ورځپاڼه کې خپور شوی او نور ډېر څه وو چې ستاسې د کمونېستۍ ثبوت کېدای شي.**

یو اشخاص دي، او یو رسمي پروګرامونه دي. اخبار هم موږ د اشخاصو او افرادو شخصي نظر پورې تړلای شو. زه داسې هم نه شم کولای چې له دې خبرې انکار وکړم، خو د لېنن د درود کیسه، چې تاسې یاد کړه، ډېره سوء توجبه شوه.

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

راځو دې ته چې له دې ګوند سره په دې نامه چې دا کمونېست ګوند دی، ډېره دښمني وشوه. خو زه وایم، چې که چېرته دا ګوند سوچه اسلامي ګوند ولای او موږ دا پالیسي وړاندې کړې وای، چې زموږ سرحد اباسین دی، بیا به هم دغسې دښمني ورسره شوې وای.

دا پاکستان چې موږ یې کمونېستان بللو، اوس هم له کمونېستانو سره ډېرې ښې اړیکې لري. خو موږ یې د کمونېزم په نامه تورنولو او خلک یې راپسې پورته کول.

زموږ یوازنی ګناه دا ده چې ویلي مو دي چې سرحد مو اباسین دی...

**تاسي کمونېستان وی که نه؟**

نه. زه به له تاسي یوه پوښتنه وکړم. تاسي چې له ما د کمونېزم په تړاو پوښتنه کوئ، تاسي کمونېزم څنګه تعریفوئ؟

**کمونېزم یوه ځانګړې اقتصادي نظریه ده، چې خپل سیاسي نظریات هم لري. کمونېستان پر دې باور دي چې فردي مالکیت نه شته، هر څه د دولت مال دی. دوی دین نه مني. مارکس په خپله دین د خلکو له پاره د اپیمو په څېر مضر بولي.**

مارکس خو خدای نه مانه، دې کې شک نه شته. خو زه په اعتقادي لحاظ مسلمان یم. په هند کې داسې کمونېستان شته، چې هم درمسال ته ځي او هم کمونېزم مني. خو داسې کمونېستان هم شته چې نه درمسال مني او نه جومات.

وایي دریاب که لوی دی، څمڅه دې خپله ده. هر ګروپ د خپلو مقاصدو له پاره په یوې ایډیالوژۍ تکیه کوي او د هغې ځیني برخې ورته مهمې وي او ځیني نه وي مهمې. مسلماني هم همداسې ده. وهابیان وایي زیارت ښه نه دی بله ډله یې مني.

هره آیډیالوژي همداسې ده. په یوه ایډیالوژۍ کې چې ډلې او اشخاص د هېوادونو ګټې، پخوانی کلتور، اخلاقي چوکاټونه.. که له دې سره مطابقت ونه لري، هغه مري. هغه کمونېزم چې په یوه لاتیني هېواد کې پلې شوی، دلته د پلي کېدو وړ نه دی. ځکه، کله چې څوک یو انقلاب راولي، که خلک څومره بې عقل هم وي، باید په نظر کې ونیول شي.

د افغانستان خلک ډېر جدي مسلمانان دي. زموږ په لیډرشپ کې متاسفانه ځیني خلک داسې وو چې خلک یې ډېر په نظر کې نه نیول. زما په ګومان، آیډیالوژي د اهدافو د تطبیق له پاره یوه وسیله ده. لکه ته چې ځان ته کمیس جوړوې، په خپلې اندازې به یې جوړوې، د فیل یا د میګي کمیس نه شي اغوستلای.

په افغانستان کې هېڅ کله داسې نه دي شوي چې څوک جومات وتړي او کفر اعلان کړي. موږ هم داسې نه دي کړي، خو زموږ پارټی ځیني اشتباهات کړي. یوه اشتباه یې دا وه چې لږ یې له ملا نه مخه بلې خوا ته واړوله. موږ ملایان له ځان سره کولای شوای، خو هغي خوا ته موږ یو دوست لرو،

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

چې پاکستان بلل کېږي. هغوی ملایان راوپارول او ورته یې وویل چې تا خو له انګرېز سره درې جنګه کړي، اوس هغه څوک څنګه منې چې خدای نه مني، رسول نه مني، حلال و حرام نه مني.

دلته داسې کمونېزم نه و چې دین لغوه کړي او خلک په کې له خپلې خوږ سره واده وکړي. دوی د کمونېستانو سیاسي نظریات د دې له پاره تعقیب کړي وو چې له دهقان او کارګر سره لږه مرسته وکړي.

زموږ ګوند چپي و، خو که تاسې یې پروګرامونه وګورئ، د کمونېزم یوې دورنما ته یې داسې ورکتل، چې ډېر یو لرې مزل دی او په څو نسلونو کې هم شاید دوی ورونه رسي.

زموږ ګوند یوه نېشنل دیموکراتیک پروګرام جوړ کړ. دوی د داسې یوه دولت طرحه وړاندې کړه، چې په هغه دولت کې وطنپاله برژوازي هم داخله وه. کمونېستان دا نه مني. ته په دې اساسي او اصولي مسایلو بحث ته غوږ شه چې سر دې خلاص شي چې دا څنګه کمونېستان وو.

دوی د دغه ملي دیموکراتیک دولت له پاره حتی ملي برژوازي، روحانیون، petty bourgeoisie (کوچنی برژوازي)، دا ټول اقشار یې په یوه دولت کې پیشنهاد کړل. دا پروګرامونه شته. تاسې د خلق ګوند اوله شماره وګورئ، هلته دا لیکل شوي. موږ شخصي مالکیت نه دی ختم کړی.

**د تره کي د واکمنی پر مهال ویل کېږي چې د ځینو فیوډالانو ځمکې واخیستل شوې او په عامو خلکو ووېشل شوې. دا د کمونېستان په اصطلاح د پرولېتاریا د خوښولو له پاره د شخصي مالکیت د ختمولو لومړی ګام نه و؟**

ژورنالېستان ډېر بد خلک دي، همدا خپله خبره تکراروي. زه درته وایم چې په افغانستان کې شخصي مالکیت نه دی لغوه شوی. موږ د ځمکو اصلاحات کړی. دغه ریفورم له موږه پنځوس کاله مخکې په جاپان کې پلی شوی دی. دا اصلاحات په ډېرو سرمایه داري هېوادونو کې هم شوي.

موږ دغه اصلاحات د دې له پاره وکړل، چې دهقان هم ښه ژوند ولري. نو د ځمکو اشتراکي کول او د ځمکو اصلاحات فرق لري.

تاسې یو حکومت د دوه درې کسانو په تحلیلونو او مقالو مه تلئ.

کله چې زموږ د ګوند لومړی کانګره وشوه، میر اکبر خیبر له پرېکړو سره مخالفت وکړ [دلته له پرېکړو نه موخه په روسیه کې د کمونیستي انقلاب او نورو نه کاپي کول دي]. هغه وویل چې دا قافیه چې موږ ځان ته وټاکله، دا ډېره تنګه ده. په یوه وطن کې چې صنعتي کارګر نه شته، ته څنګه دغسې نظریات وړاندې کوې. د مارکس پر مهال، په المان کې دا نظر سم و، ځکه چا له کارګر سره واده هم نه کاوه او آن هدیرې یې بېلې وې. په افغانستان کې، داسې ګارګر چې ځان یوه طبقه وګڼي، نه شته.

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

زموږ د ګوند د واکمنۍ پر مهال ځيني اصلاحات رامنځ ته شول، مګر هغه اصلاحات د المان او نورو سرمايه داري نظامونو په مقايسه ډېر لږ و. اوس چې تاسي او نور ژورنالېستان موږ کمونېستان ګڼۍ، دا د پاکستان برکت دی.

**تاسي وويل چې زه مسلمان يم. پرون هم مسلمان وۍ؟**

پرون هم مسلمان وم. هېڅ وخت خدای زما له زړه نه دی لرې شوی.

**ستاسې په باور، د ثور کودتا چې په افغانستان کې د سم نظام د له منځه تلو لامل شوی او د اوږدې بې ثباتۍ د رامنځ ته کولو لار يې هواره کړې، يوه سهوه او اشتباه وه او که نه؟**

زه دې ته سهوه ځکه نه شم ويلای، ځکه، کله چې د داوود حکومت له منځه لاړ او نوی حکومت رامنځ ته شو، زه د دې حکومت برخه شوم. که زه د داوود خان حکومت چپه کول سهوه وګڼم، بيا خو له ما پوښتنه کېدای شي چې دا عقل دې ولې هغه وخت نه لاره! خو دا وايم چې زما اراده په کې نه وه. د ليډرانو اراده نه وه. د امين په نامه يو ماجرا جويه او لېونی سړی و چې د داوود حکومت يې چپه کړ او زه فکر کوم چې د کوم چا ايجنت به و. غربيان خو ډېر هوښيار دي، زما په ګومان دوی دغسې کسان دلته دننه کړل چې خلک ووژني او دا کار بدنامه کړي او بدنامه يې کړ.

مير اکبر خيبر ولې ووژل شو؟ خيبر په دې ووژل شو، چې پر کودتا باورمن نه و. چا چې به کودتا طرحه کړه، دی به يې مقابل کې ولاړ و. ده به ويلې چې موږ دولت چپه کولای شو، بل دولت هم اعلانولای شو، خو عادلانه دولت نه شو جوړولای.




لايق وايي چې زموږ ستره ستونزه دا وه چې د رهبر هره خبره مو منله.

**افغانستان ته روسان څنګه راغلل او ستاسي د ګوند له لوري د دوی له راتلو سره کومه علاقه مندي وه؟**

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

برژنسکي او نورو پوهانو ويلي چي شورويان، امريکايانو افغانستان ته راوستل. زه له دې نظر سره موافق يم. د روسانو راتګ پلان شوی کار نه و، بلکې د ډګروال يوسف خبره، خرس په تلک کې راګير شو.

بله زموږ د ګوند خبره ده، زموږ ګوند د روسانو له راتلو سره هېڅ کله هېڅ ډول علاقه مندي نه لرله. وروسته له دې چي روسان راغلل، بيا خو مجبور وو چي ويې مني. امکان لري چي زموږ د رهبرانو، د اشخاصو موافقه به وه، خو ګوندي موافقه نه وه. حتی که زه تاسې ته يوه خبره وکړم، تعجب به وکړئ. هغه قيام چي په پايله کې يې زموږ ګوند حاکم شو، دا قيام زموږ ګوند نه دی کړی. په ګوند کې دوو کسانو، چي نظامي واک ورسره و، د قيام پرېکړه کړې. موږ هم خپل حزب نه شو خوشي کولای.

**په افغانستان کې د امريکايي او روسي قواوو شتون تر منځ څه توپير وينئ؟**

فرق شته. روس له يوه ګوند سره د تعهداتو په نتيجه کې راغی او امريکا له اوو تنظيمونو سره په اړيکه کې راغله خو کوم تعهدات نه شته. امريکا هوايي بريد وکړ او لاندې ورسره له يوې خوا دوستم، له بلې خوا د پنجشېر عزيزانو او له بلې خوا حاجي قدير پر طالبانو بريد وکړ. دلته زموږ په خبر يو منظم هېواد نه و چي دوی وردعوت کړي.

خو امريکي يو کار وکړ، چي د نړۍ ټول واکمنان يي له ځان سره کړل. اروپايي اتحاد، روس، چين او نور له دوی سره شول او مرسته يې ورسره وکړه.

**تاسي که د خپل ګوند تاريخ ته په انتقادي شکل وګورئ، څه غلطی په کې وينئ؟**

موږ ډېر اشتباهات وکړل. زه په ټلويزيونو کې دا وايم. موږ په يوه داسې هېواد کې کارګري ګوند جوړ کړ، چي هغه هېواد کې صنعتي کارګر نه و، متشکل دهقان نه و. ما په کلي کې ډېر وخت تېر کړی. موږ خپل فکر په کتابونو کې ليکلی او لوستی و، له خلکو سره مو نه و شريک کړی. زه هغه څوک وم چي ټول ژوند مي له خلکو سره تېر کړ. موږ چي به کله دهقان ته وويل چي ځمکه درباندې وېشو، دوی به را ه را ه راکتل.

زموږ په کلي کې يو سړی و، پردل اکا نومېده. راته يې وويل چي تاسې ځمکې وېشئ، ما ويل هو، که موږ حکومت راوست دا کار به کوو. موخه مي اصلاحات وو. ده ويلي چي «ګله! موږ خو ځمکه نه لرو»، ما ويل تا ته به يې هم ان شا الله درکړو. ده ويلي، «دې ټولو ته خدای ورکړي. موږ ته دې هم خدای راکړي، تاسي يې مه راکوئ». دلته منظم دهقانان نه وو چي د ځمکو تقاضا يې کړې وه. موږ دا موضوع نه وه درک کړې.

بله دا، چي موږ له ملايانو سره، له مذهبي آدابو او د افغاني کلتور له قبايلي او ملي برخو سره، لکه ودونه، دودونه، ننواتي.. دغو ته مو ډېره پاملرنه ونه کړه. موږ غوښتل چي کوم آرامانونه چي مو

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

زړه کې وو، دغسې تولنه جوړه کړو. دا ملایان که څه هم د خلکو خبره ژر مني او نور تکفیروي، خو له بل پلوه دوی ډېر ښه خلک دي. ملا خو مذهبي پېشوا دی، باید جومات پرې تنګ نه شي. دوی خواران هم لوږه ګالي او هم تنده، بیا یې څوک مرتجع او د ټولنې کثافات وبلي! موږ ټول ملایان رانیولي وو چې دا بد خلک دي.

زموږ رواج دا دی، چې کله هم له خپل عقل نه استفاده نه کوو. کله چې په یوه مجلس کې جلسه کېږي، خلک هماغه لومړي کس (مشر) ته ګوري چې څه وایي. دې وخت کې سړي خپل عقل جېب کې ایښی وي او ډارېږي چې که مخالفت وکړم، بیا به راته ستونزمنه شي. موږ او زموږ ملګرو هم خپل عقل خپل جېب کې واچاوه او د مشرانو هره خبره مو منله. دلته کولکتیف د اشخاصو ارادې ته تسلیم شو.

یوه کیسه به درته وکړم. موږ چې کله قیام وکړ، د مترقي دیموکراتانو پارټي چې د میوندوال ګوند و. د ده له وفاته او زموږ له پاڅونه وروسته دوی موږ سره د یو ځای کېدو غوښتنه وکړه. هغه وخت کې پولېټېکل یا سیاسي بیرو چې تر ټولو لوړه برخه وه، موږ چې دار الانشا یا سکریتریت کې وو، ور ویې غوښتو. د جلسې مشرتوب د تره کي صاحب پر غاړه و. دغه غونډه کې یې د مترقي دیموکراتانو لیک کې لیکل شوي وو چې ستاسي له پروګرام سره زموږ پروګرام هم جوړ دی. تاسي په حکومت کې زموږ تکلیف راوښیئ. تره کي صاحب ویلي چې د دې په تړاو رایه ورکړو. کله چې هغه د نظر غوښتنه وکړه، ټول منتظر وو چې تره کی صاحب څه وایي، چې دوی هم د ده نظر تایید کړي. ده نظر ونه وایه او زه یې مخاطب کړم او راته یې وویل چې ته خو ډېر خوله ور سړی یې، ستا نظر څه دی. ما ورته وویل چې دا ډېر دقیق او اصولي سند دی او زه تاسي ته مبارکي درکوم چې هغه ډلې چې په سیاست کې یې له موږ سره په مخامخ جګړه کې برخه اخیسته او زموږ ډېر جدي اپوزیسیون و، هغه راغلې چې کار درسره کوم. تره کی غلی و. له نورو یې د نظر پوښتنه وکړه، بیا یې پر امین غږ وکړ. ده وویل چې زما خبره خو روښانه ده، که زما په زړه وي، دغ لس کسه دستي اعداموم. تره کي صاحب نورو ته مخ واړاوه او ویې ویلې چې انقلابي فیصله دغسې وي. بیا یې ما ته توصیه وکړه، چې «شرعیات دې هم ویلي او د ملا زوی هم یې، لږ انقلابي شه». له هغې وروسته ټولو لاس اوچت کړ او موافقه یې ورسره وکړه. ما بیا د بیا مخالفت ونه کړ چې ورتهووایم چې موږ یوه داړه یو، د تروریستانو یوه ډله یو چې دا خلک ووژنو، او که حکومت یو؟ ما باید مخالفت کړی وای.

بیا تره کي امین ته وویل، چې وژنو یې نه، دا ډېره درنه جزا ده، امر ورکړئ چې بندیان شي. هغه خواران یې بیا بندیان کړل. وروسته بیا زه هم بندي شوم..

**تاسي خو پرچم کې وئ، څنګه به بندي شوي وئ؟**

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

نه پوهېږم، خو زه که څه هم له پرچمیانو سره وم، خو په دې مشهور وم چې دی د چا خوا نه نیسي. خو زه یو سړی وم، په دوو کیشتیو نه شوم سورېدای. ما نه شوای کولای چې پر یوه وخت دواړو خواوو ته ورشم. په پرچم کې خیبر صاحب و، ما له میر اکبر خیبر سره اخلاص درلوده او د هغه له پاره په پرچم کې وم.

**ستاسې په ګوند کې نورې څه ستونزې وې؟**

زموږ ستونزه دا وه چې شخصیت پرستي مو کوله. حتا پاکستان کې چې پارټیو ځان دیموکراتیک باله، دوی هم دیموکراتیکې نه وې. بوټو چې به څه ویل، دوی به همغه منله. بوټو به په لوی محفل کې ویسکي په سر اړاوه. هغه به ویلې چې تاسې یې مه څښئ، زه یې څښم.

موږ ملایانو پسې هم راخیستې وه. ملایان ډېر ښه خلک دي. خو موږ په آرامه پرې نه ښودل. د امان الله خان په مقابل کې به یا لس ملایان پورته شوي وو، یا پنځلس، موږ ټولو پسې راواخیسته، چې وروسته بیا دوی تنظیمونو ته مخه کړه او هغوی هم چندان وضعه ورسره ونه کړه.

زموږ بله اشتباه دا وه چې په رسمي اخبار کې د لېنن په نامه درود خپاره شول. ما که څه هم دغه اشتباه په هغه وخت کې جدي نتقاد کړه، خو اقلیت کې پاتې شوم. دغسې موضوعګانو ته هېڅ اړتیا نه وه.

**مننه.**

www.esalat.org

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com